**Multilateral Investment Guarantee Agency**
World Bank Group

**مطبوعاتي اعلاميه**

---

**د نړیوال بانک ګروپ د پانګونې د څو اړخیز تضمین اداره په افغانستان د یوه کوچني کاروبار ملاتړ کوي**
*په هرات کې د کشمیرې د پروسس دا نوی مرکز به د دې وروسته پاتې سکتور په وده کې ونډه ولري*

**واشنګټن، د سنبلې ۱۹مه، ۱۳۹۲ (د ستمبر ۱۰، ۲۰۱۳)** - د پانګونې د څو اړخیزه تضمین اداره ، چې د نړیوال بانک ګروپ د سیاسي ګواښونو د تضمین څانګه ده، په هرات کې د کشمیرې وینځلو او ضد عفوني کولو د یوې فابریکې په بیمه کولو سره په افغانستان کې د مستقیمې بهرنۍ پانګونې ملاتړ کوي. د یادې ادارې په مرسته به دا پروژه دې غوړېدونکي صنعت ته وده ورکړي، او په داسې یوه هېواد کې به چې د لېږد په پړاو کې دی، مستقیم او نامستقیم کاري فرصتونه رامنځته او اړوندو خلکو ته به تخنیکي مهارتونه انتقال کړي.

د نړیوال بانک د پانګونې د څو اړخیز تضمین اداره د بلجیم د ټرېټکس انټرنیشنل شرکت او د لوګزامبورګ د سوډټېک فایننسس شرکت د پور او اسهامو په بڼه د دوه میلیونه ډالرو پانګونې لپاره تضمین برابروي. یاده دې وي چې دې دواړو شرکتونو په افغانستان کې د ټرېټکس شرکت په نمایندګۍ کې پانګه اچولې. نوموړې اداره دا پروژه د لسو کلو لپاره د پیسو انتقال د محدودیت، د ملکیت د سلب، او جګړې او کورنیو ناکراریو د ګواښونو پر وړاندې بیمه کوي.

په اوس وخت کې د کشمیرې سکتور په افغانستان کې ډېره کمه وده کړې ده. په خامه کشمیره کې د اضافي موادو د لوړې کچې شتون د هغې وزن زیاتوي چې ورسره یې د لېږدولو لګښت لوړېږي. افغان تولیدوونکي مجبور دي له هغو هېوادونو سره، چې دې سکتور ېکې پام وړ وده موندلې، د سیالۍ لپاره د خپلو تولیداتو نرخونه ټیټ وساتي.

د هرات د تار او نساجۍ په صنعتي پارک کې د کشمیرې (ټرېټکس) فابریکه به تار د صادرولو لپاره چمتو کوي. په دې سره به سوداګر پروسس شوې افغاني کشمیره په لوړه بیه وپلورلای شي شي، چې دا به له وزو د کشمیرې راټولول وهڅوي او د هغو محلي شپنو عایدات به لوړ کړي چې د کشمیرې وزې پالي. د شپنو پر نامستقیمو ګومارلو سربېره به دا پروژه په داسې یوه سیمه کې چې له محدودو فرصتونو برخمنه ده، ۳۵ کسو ته د دایمي کار زمینه برابره کړي، او هم به افغان کارکوونکي پدې برخه کې وروزي.

*"تر دې دمه د افغانستان د کشمیرې نړدې ټول تولیدات په خام ډول صادرېدل ځکه په هېواد کې یې د پروسسولو کوم مجهز مرکز شتون نه لره،"* دا خبره د **ټرېټکس انټرنېشنل شرکت د ګروپ یوه غړي، ښاغلي ډومنیک ګوډن،** وکړه او زیاته یې کړه: *"د دې صنعت د ودې لپاره په هېواد کې پراخ ظرفیت شتون لري، او همدارنګه له نړیوال بانک څخه مننه کوو چې د بیمې په برابرولو سره یې د دې پروژې د خطر کچه راټیټه کړه او دا یې ډاډمنه کړه چې کار پرمخ ولاړ شي."*

*"دا پروژه له افغانستان په څېر هېوادونو سره، د مستقیمې بهرنۍ پانګونې د ملاتړ په برخه کې، د نړیوال بانک ګروپ د مرستو ځرګنده بېلګه ده،"* دا وینا د **د پانګونې د څو اړخیز تضمین ادارې مرستیال، ښاغلي کیکو هوندا،** وکړه او زیاته یې کړه: *"موږ د داسې پروژو د ملاتړ لپاره کافي تخصص او تجربه، او په عین حال کې یې پر وړاندې مسئولیت لرو، او موږ د خوښۍ احساس کوو چې په دې هېواد کې، چې له جګړې څخه د وتو په درشل کې دی، د دندو په رامنځته کولو او د صنعت په وده کې ونډه لرو."*

---

د پانګونې د څو اړخیز تضمین اداره په ۱۹۸۸ کې د نړیوال بانک ګروپ د یوه غړي په څېر پدې موخه رامنځته شوه چې په غوړېدونکو اقتصادونو (هېوادونو) کې مستقیمه بهرنۍ پانګونه وهڅوي چې اقتصادي وده غښتلې کړي، د بېوزلۍ کچه راکمه کړي او د خلکو د ژوند سطحه لوړه بوزي. میګا دا ماموریت پانګه اچوونکو او پور ورکوونکو ته د سیاسي ګواښ لپاره د تضمینونو برابرولو له لارې، چې ېکې د ملکیت سلبول، د قرارداد نقضول، د پیسو د انتقال محدودیتونه، جګړه او ملکي ناکرارۍ او د مالي وجایبو نه اعتبار راځي، بشپړوي.

د پانګونې د څو اړخیز تضمین اداره، د نړیوال بانک ګروپ
1818 H سړک، NW، واشنګټن ډي سي 20433
له میګا سره اړیکه
ملوري سیلسن، msaleson@worldbank.org، 1.202.473.0844
ربیکا پوست، rpost@worldbank.org، 1.202.473.1964
کارا سانتوس پیانسي، csantospianesi@worldbank.org، 1.202.458.2097

www.miga.org